




لیکونکی : قاضي محمد حسن « حقيار »
د نشر نیټه : ۳۱ اکتوبر ۲۰۱۳ میلادی

# د حرمینو هندار
# د حج یونلیک
## اتیایمه برخه

### دشباکیا جریمه:

حاجي عبدالله چې زموږ دشرکت ګډونوال وو هم زماترڅنګ کی ناست هغه ډېر چالاک سړی وو څه ناڅه عربي یې هم زده وه په خپله چالاکۍ یې ځان دموټر رئیس معرفي کړ،ما چې خپل سامان ځای پرځای او ځانته سیټ ونیوه نو نور خلک لاپوره راښکته شوي نه و موقع مې غنیمت وګڼله حرم ته لاړم نفل لمونځ (تهجد)مې وکړل اوپه وروستي ځل مې د رسول الله ص اوشیخینو سلام وکړ، دابیلتون هم اسانه ندی، یوه لپه اوښکې بیه غواړي، دلته هم زه پرېښنو راووتلم خو زړه مې هملته بند او د رسول الله ص دمزار په پنجروکې اسیر و.

په هرحال څلور نیمې بجې موټرو حرکت وکړ یوځل بیا په یوځای کې د حاجیانو پاسپورتونه او اسناد وکتل شول اود حاجیانو حاضري واخستل شوه له مدینې منورې څخه په تیاره کې راووتو د سحر لمونځ مو له ښار څخه بهر په یوه مسجد کې په جماعت اداکړ زموږ موټر چلوونکی هادي شباکیا داندونیزیا اوسیدونکی او خبرنه دریشي یې پرتن وه،موږ په تیاره کې روان وو چې دترافیکوموټر مو د موټر مخې ته ودرېد ،ډرېور ته یې د راښکته کېدلو وویل له ښکته کېدلو وروسته یې سمدستي ورته د جریمي پرچه ورکړه، شباکیا لږ ځان اخوا دېخوا کړ عذر یې وکړ خوګټه یې ونکړه یو سل او لس ریاله (شاخوا ۱۴۳۰افغانۍ)یې ترې واخستل اوپرچه یې ورکړه ماچې پرچه وکتله نو د تخلف ډول یې سرعت ښوولی و په پرچه کې دتخلف ډول ، وخت ،ځای د چلوونکي نوم، د جریمه کوونکي کمپیوټر شمیره،دموټر پلیټ ،دجریمي اندازه هرڅه لیکلي وو،چلوونکی ډېر خفه وما ترې وپوښتل چې سرعت دې کله له حده واوښت هغه راته وویل چې لږ وړاندې دموټرو په ګڼه ګوڼه کې راګېر شوم نو د ځان دوېستلولپاره مې موټر لږ تېز کړ او ستن مې ۱۱۰ته ورسېده ،په داسې حال کې چې مجاز سرعت ۱۰۰ کیلومتره په یوه ساعت کې دی،نوکمپیوټر زه څارلی یم او دترافیکو مدیرته یې خبر ورکړی دی، شباکیا خفه شو ویل یې چې داپیسې ،دی له خپل جیب څخه ورکوي او کمپنۍ یې مسؤولیت نه اخلي.

ماحاجي عبدالله ته وويل چې ده ته له حاجیانو چنده غونډه کړي ،هغه هم پیل وکړ او چنده یې ورته
ټوله کړه.
پرلار ځای ځای پر تختو تختو لیکل شوي وو :خبر اوسئ سړک په رادار کنټرولیږي)
چاې موپه مطعم الراحة والزین کې چې له وادي هاري څخه مخ په مدینې پروت دی وڅښه.
له مکې معظمې څخه مدینې ته ۱۵۰ کیلومتره لیرې په الظبیة والجمعة کې پروت هوټل( فندق و
مطعم الراحة) ته چې له دېخوا تللو نوشاو خوا شل موټر ولاړ وو خو دامهال پکې هیڅوک نه
ښکارېدل.
له آبیار سره نږدې موپه یو هوټل کې د زمزمو د لیږد (سقیازمزم)سپین ټانکر ولید.
دمدینې منورې اومکې معظمې ترمنځ پر پروت سړک هوټلونه کم دي له مدینې څخه مخ پر مکې تر
وادي ستاره په یوه ساعت کې تر ۲۰۰کیلو متره د چټک تګ اجازه شته ده.
له مدینې منورې څخه مخ پر مکې تر هغه ځایه چې دمکې او جدې لار بیله شوې یا له مکې معظمې
څخه ۹۹کیلو متره لیرې ټوله لار توره او سوځیدلې تیږه ده. کله کله صحرایي بوټي هم لیدلې
کیږي.

جحفي ته د مکې او جدې دوه لارې ته نا رسیدلی ښي خواته لار تاوه شوې همدا راز له عمومي
سړک څخه ینبوع،واثل ،ابیار،جحفي او ذهبان ته هم لارې تاوې شوې دي، اوله دو طرفه سړک
څخه جال تاو دی، چې هیڅ حیوان دوراوښتلو لار نلري.
پر لار څو ځایه باغچې او کروندې ښکاري، ونې یې بې میوې اوله واترپمپونو یاڅورو ځاګانو
خړوبیږي، خو نوره ټوله شګلنه صحرا او توره تیږه ښکاري له مکې څخه مدینې ته ٦٥ کیلو متره
لیرې د ملک عبدالله ښارګوتی دی، داښار ګوتی ډېر لوی او آباد دی، پر لویه لوحه یې (مدینة ملک
عبدالله الاقتصادیه) لیکلي دي په دې ښار ګوټي کې لسګونه لویې او لسګونه کوچنۍ فابریکې فعالیت
کوي، پرلویه لار یې د ( شرکت رضوي لانتاج غذاءالمحدودة) فابریکې لوحه لیکلې داډېره لویه
فابریکه ده په دې ښار ګوټي کې د نارینه وو د تللو او راتللو سړکونه بیل او دښځو بیل دي.

خوهلته ښځې له کار څخه منع ندي، بلکې هغوی ته داقتصادیه غوړېدو کې ونډه ورکړل شوې
اوحجاب پرې پلی شوی دی، خو په افغانستان کې هرڅه افراطي دي دلته ښځه یا په کور کې نول
کیږي او یا دومره ازادي ورکول کیږي، چې ټول اسلامي حدود او افغاني دودونه تر پښو لاندې کوي
او اروپایانې هم ورپسې نه رسیږي


قاضي محمدحسن « حقیار »
haqyar@gmail.com



www.said-afghani.org – بارگشت به صفحه اصلی